پـوهـنـدوي مستعلی (نـیازی)
ښـوونـې او روزنـې پـوهنځي
تـاریخ څانګې علمی کادر غـړي

# له [ ۱۸۲۸ _ ۱۹۷۳ ز کال ][ ۱۲۴۲ _ ۱۳۵۲ ل ]د افغانستان مطبوعاتو ته یوه لنډه کتنه

لنډیز :

نوموړي علمي مقاله کې په افغانستان د مطبوعاتو د تاریخ یو مهمه برخه ۱۲۴۲_ ۱۳۵۲ ل (۱۸۲۸ ز _ ۱۹۷۳ ز) کالونو کې څیړل شوي . چې د مطبوعات په بنسټ ایښودلو او پراختیا کې کوم واکمن زیاته ونډه اخستي او په دي اړه یو دقیقه څیړنه شوي ده . په دې لیکنه کې د امیر شیر علی خان ، امیرحبیب الله خان ، غازي امان الله خان ، حبیب الله کلکاني (بچه سقاو) ، نادرخان او ظاهر شاه د واکمنیو پر مهال د مطبوعاتو وضیعت ( د جریدو ، روزنامه او نورو خپرونو ) په اړه څیړنه شوي ده .

سریزه :

په افغانستان کې د مطبوعاتي فعالیتونه پیل او پراختیا د افغانستان د هر پاچا په واکمنۍ کې ځانګړي بڼه او وضیعت درلود . ځیني وختونه د افغانستان یوه رسنۍ د بهرنیو هیوادونو خصوصاً د انګلیسانو له خوا بنده شوي لکه د سراج الاخبار جریده چې له یوي شماري له خپریدو څخه وروسته د انګلیسانو په اشاره او فشار بنده شوه. د سراج الاخبار افغانیه جریده چې له (۱۹۱۱ ز) کال وروسته په نشر پیل وکړ، روسان د نوموړې جریدې په نشر ډیر خفه او د دې جریدې د بندیدو هڅه یې کوله ، د امیر شیر علی خان په واکمنۍ کې د جریدو نشر پیل د عبدالرحمن خان ، حبیب الله خان ، امان الله خان ، حبیب الله کلکانی ، نادر خان او ظاهر شاه د واکمنۍ پر مهال لوړې او ژورې تیرې کړي او دې جریدو مسئولینو په هر وخت کې خپل تاریخي مسولیت سرته رسولی . چې ځیني یې بندیان شوي هم دي ، خو هڅه یې کړې چې فرهنګي فعالیت جاري وساتي او د افغانستان د خلکو په بیدارۍ او دخپلو حقوقو په تر لاسه کولو کې یې ونډه اخستي ده . زمونږ د هیواد په (۱۹۱۹ ز ) کال کې د خپلواکۍ تراخستلو وروسته د مطبوعاتو او جریدو په نشر او فعالیت کې هم ستر بدلون را منځ ته شو او خپرونو ډیره پراختیا وکړه .

موخي

_ په یو ځانګړي تاریخي پړاو کې د افغانستان د مطبوعاتو وضیعت څیړنه. تر څو لوستونکي په دغه پړاو کې د مطبوعاتو له حالت او د وکمنانو له کړنو څخه خبرتیا پیدا کړي .

_ د ځینو جریدو په بندیدو کې د بهرنیو (انګلیسانو) د فشار اغیز .



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ د علمي رتبې دلوړيدو له پاره د يوه شرط بشپړول .

**موادو او کړنلاره :**

د څېړنې ميتود کتاب توني ده چې د دې مقالې په ليکلو کې د غوره او علمي اثارو او ويب سايټ څخه ګټه اخستل شوې ده . د مطبوعاتو د وضيعت په اړه ليکل شوې . مطالبو او علمي اسنادو څخه د نوموړې مقالې ليکلو کې ګټه اخستل شوې ده . ځکه دمطبوعاتو وضيعت په هر واکمنۍ کې ځانګړې بڼه درلوده . ځينو واکمنانو د نشراتو په مقابل کې ستونزې ايجادولې او د سالمې نيوکې د تحمل توان يې نه درلود .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د امیر شیر علی خان د واکمنۍ پرمهال[ ۱۲۴۲ _ ۱۲۵۲ ] [ ۱۸۲۸ _ ۱۸۷۸ ] ز کال

امیر شیر علي خان د دویم ځل واکمنۍ پر مهال د نورو اصلاحاتو په څوا کې مطبوعاتو ته هم ځانګړې پاملرنه وکړه . د شمس النهار جریدې په ۱۸۷۳ ز کال د حکومت تر مستقیم نظارت لاندې نشرات پیل کړل . ځکه مطبوعات به ځینې وخت د دولت تر مستقیم نظارت او کله به هم د مطبوعاتو د قانون د نافذیدو له امله به ځینې ورځپاڼې او جریدې په ازاد ډول نشریدلې .

امیر شیر علي خان د علامه سید جمال الدین افغان د اصلاحي پروګرام د تطبیق او ټولنیز اصلاحاتو د تطبیق په خاطر د شمس النهار جریده خپره کړه .

د شمس النهار د جریدې له نشریدو سره سم د افغانستان خلکو د ورځپاڼې د لوستو او فعالیت سره آشنایي پیدا کړه . د دې جریدې له نشر څخه وړاندې خبرونه د جارچیانو له خوا په څلورلارو کې خپریدل ، د نوموړې جریدې له نشره سره افغانستان د نړیوالو رسنیو سره اړیکې پیدا کړې . ځکه په دې جریده کې دیني ، مذهبي او د بهرنیو ژبو څخه ژباړل شوي علمي مطالب خپریدل . په ( ۱۸۷۵ ز کال ) کې امیرشیر علي خان یوه چاپ خانه وارد کړه چې په دې چاپ خونه کې به کتابونه ، جریدې ، تعلیمات نامې او لوحې چاپیدلې . ( ۱۰ : ۷۲ ) .

## د امیر حبیب الله خان د واکمنۍ پرمهال [ ۱۹۰۱ _ ۱۹۱۹ ز ][ ۱۲۷۰۹ _ ۱۲۰۷ ل کال]

امیر حبیب الله خان په ( ۱۹۰۱ ز کال ) واک ته له رسیدو وروسته د سلطنت په څلورم کال ( ۱۹۰۵ ز کال ) د شاهي مدرسې یو شمیر روڼ اندي او پوهان د دیني علومو د تدریس په محل ( د کابل د چوب فروشۍ په مسجد کې ) امیر دربار ته وړاندیز وکړ چې د افغانۍ پوهانو ټولنه ( انجمن ) جوړ شي . د دې ټولنې له پاره مولوي عبدالروف کندهاري چې په خاکې مشهور و د مشر ، مولوي محمد سرور واصف او مولوي احمد جان الکوزی چې په تاجر مشهور و د منشیانو په توګه وټاکل شول . د ټولنې موخه دخلکو ویښول او د نوي تمدن سره آشنا کول وه ، سراج الاخبار د نشر د اجازې له منظورۍ څخه ( ۸ ) میاشتې وروسته د ( ۱۹۰۲ ز کال ) د جنوري په ۱۱ مه لومړۍ ګڼه په ۳۲ مخونو کې چاپ شوه . ( ۷ : ۲۸ )

د سراج الاخبار جریده ډیر ژر د برطانوي هند د فشار په آساس بنده شو. ښاغلی محمد ابراهیم عطایي په دې اړه داسې نظر لري : (( د سراج الاخبار یو ګڼه خپره شوه خو داسې ډیر اسناد او شواهد شته چې له هند څخه انګریزانو امیر حبیب الله خان ته اخطار ورکړ . او هغه هم دا خپرونه بنده کړه ....) . ( ۸: ۱۵۸ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

*محمود طرزي په دربار کې له خپل نفوذ څخه ګټه واخسته او د امیر حبیب الله خان د رضایت وروسته په (۱۹۱۱ ز کال) د سراج الاخبار افغانیه جریده د محمود طرزي په مدیریت نشر شوه. محمود طرزي په دې جرید ه کې د مشروطه غوښتونکو نظریاتو پر بنسټ د استعمار ضد او بشري نړې د پرمختګونو اړوند مهم علمي نظریات خپرول. نوموړې جریده د افغانستان سربیره د تاجکستان، هند او ایران د ځوانانو په بیدارۍ کې ونډه واخسته. په (۱۹۱۸ ز کال) محمود طرزي د سراج الاخبار په یوه (ضیمه) کې د سراج الا اطفال په نوم د تنکیو ځوانانو او کوچنیانو لپاره نشر ه کړه. (۲: ۱۴)

## دامان الله خان د واکمنۍ پر مهال [۱۲۹۸ _ ۱۳۰۸ ل] [۱۹۱۹ _ ۱۹۲۹ ز کال]

غازي امان الله خان د واکمنۍ پر مهال د نورو ټولنیزو اصلاحاتو په څوا کې په مطبوعاتو کې هم ژور بدلون منځ ته راغی او د پام وړ جریدې او ورځپاڼې نشر شوې. د هغه د واکمنۍ د اساسي قانون په یولسمه ماده کې د مطبوعاتو ازادۍ ته داسې اشاره شوې وه: (( داخلي ورځپاڼې او چاپي مطبوعات د اړونده قوانینو د حکم سره ازاد دي. د ورځپاڼو چاپ حق د افغانستان د دولت او خلکو ته ځانګړې دې. بهرنې نشرات د دولت له خوا تنظیم او سانسوریږي.)) (۱: ۱۵)

۱۹۲۸ ز کال د مطبوعاتو نظامنامه جوړه شو چې د نوموړې نظامنامې وروسته مطبوعاتو فعالیت قانوني بڼه غوره کړه. چې په دې نظامنامه کې د جزا وړاندوینه هم شوې وه. خو په هیواد کې د مطبوعاتو فعالیت پراخه او لاندې ورځپاڼې، اونیزې او میاشتنۍ خپریـــــــــدلې.

* محمود طرزي د غلام محمد طرزي زوی (۱۲۴۴ لمریز _ ۱۸۲۸ ز کال) د اګست په ۲۳ مه په غزني کې زیږیدلی دی. لومړنۍ زده کړې یې د خپل پلار او ملا محمد هوتک څخه کړي. نوموړي اردو ژبه په هند کې د استوګنې پر مهال زده کړه. په شام او بغداد کې یې عربي ژبه، زده کړه. په (۱۹۰۲ ز کال) افغانستان ته راستون شو. په ۱۹۳۳ ز کال د ځیګر د ناروغۍ له امله په استانبول کې مړ شو او هلته خاورو ته وسپارل شو. (۳_ مخ: ۱۲۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ ـ اتحاد مشرقي ورځپاڼه .
۲ ـ ابلاغ ورځپاڼه .
۳ ـ حقيعت ورځپاڼه .
۴ ـ افغان اونيزه ورځپاڼه
۵ ـ امان افغان ورځپاڼه.
۶ـ افغان ورځپاڼه .
۷ـ غازي ورځپاڼه
۸ـ اتفاق اسلام ورځپاڼه
۹ـ طلوع افغان ورځپاڼه .
۱۰ ـ بيدار اونيز ورځپاڼه .
۱۱ ـ ارشاد النستوان ورځپاڼه .
۱۲ ـ اصلاح ورځپاڼه .
۱۳ ـ جريده مکتب ( دوه اونيو کې يو ځل خپريده
۱۴ ـ مجموعه عسکر مياشتنۍ .
۱۵ ـ معارف مياشتنۍ .
۱۶ ـ ائينه عرفان مياشتنۍ .
۱۷ ـ مجموعه صحيه مياشتنۍ .
۱۸ ـ پښتون غږ مياشتنۍ ( ۲: ۱۵ )

دامان الله خان په واکمنۍ کې د ازادو مطبوعاتو په لړ کې انيس د غلام محی الدين انيس په مديريت چاپ شوه. غلام محی الدين انيس د غلام نقش بند زوي د احمدزيو قوم ته منسوب اصلي ټاټوبی غزني دی .( ۴: ۸۸ )

بله اونيزه نسيم السحر په نوم د احمد راتب او محمد نوروز په مديريت نشريدله . غلام محی الدين انيس يوځل بند ي شو خو محمد ولی خان هغه ازاد او انيس بيرته خپل نشرات پيل کړل . نسيم سحر هم په شاه باندې د نيوکې له امله بندي شو . ( ۲: ۱۲ )

د امان الله خان په واکمنۍ کې د ارشاد النسوان د جريدې په نشرسره د ښځو ونډه په مطبوعاتو کې زياته شوه. پورته نشرات يو شمير په ولايتونو کې نشريدل لکه طلوع افغان په قندهار کې ، اتحاد مشرق په جلال اباد ، اتفاق اسلام په هرات ، غازي په خوست کې ، ستاره افغان ، په پروان ، اتحاد اسلام (بيدار) په مزار شريف کې خپريدلې ( ۲: ۱۷ ).

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د امير حبيب الله کلکاني (بچه سقاو) د واکمنۍ پرمهال [ ۹۲ / جدی / ۱۳۰۷ _ ۲۹ جدی / ۱۳۰۹ ] [ ۱۹۲۹ فبروری _ ۱۹۲۹ اکتوبر]

د امير حبيب الله کلکاني (بچه سقاو) په واکمنۍ کې ځينې دولتي او خپلواکه جريدې بندي شوې خو يو شمير جريدې د دولت د پاليسۍ او تګلارې سره سم چاپيدلې ، د امان افغان پر ځای د حبيب الا سلام د رسمي جريدې په توګه چاپيدله . لومړی يې دغلام محی الدين انيس او سيد حسن په مسوليت خپرونه کوله خو له (۲۱) مې ګڼې وروسته دواکمنۍ تر پايه پورې برهان الدين کشککي د دې جريدې د مسول مدير په توګه دنده اجرا کوله او له دې جريدې پرته لاندې جريدې د حکومت د سياست سره سمې خپريدلې .

۱_ رهبر الاسلام (بيدار) په مزار شريف کې د عبدالصمد په مسوليت .

۲ _ شرف الامسار (موئيد لاسلام ) په کندهار کې .

۳ _ اتحاد مشرقي اونيزه ( الايمان) په نوم د مولوي محمد ابراهيم کاموي په مديريت .

۴ _ اتفاق اسلام اونيزه جريده دهرات په ولايت کې د محمد سرور جويا په مسول مديريت .

۵ _ نهضت الحبيب اونيزه جريده په خان اباد کې د محمد بشير په مسوليت خپرونې کولې . يو شمير جريدې د دولت پر ضد نشريدلې چې عبارت دي له :

۱_ اتحاد افغان جريده د جنرال شاه محمود او محمد يعقوب حسن په مسوليت د پکتيا په ولايت کې .

۲ _ د کور غم د سيد حسن په مسوليت په ننګرهار کې او غيرت الاسلام خپرونې کولې . . د حبيب الله کلکاني په واکمنۍ کې ټولو خپرونو اسلامي بڼه درلوده . ځکه د امان الله خان د دورې د مطبوعاتو قانون د نورو قوانينو سره يوځای لغوه اعلان کړل شو . (۴: ۴۳۷ _ ۴۳۸)

## نادر خان د واکمنۍ پر مهال [ ۱۹۰۹ _ ۱۳۱۲ ل ک ] [ ۱۹۲۹ _ ۱۹۳۳ ز کال ]

د ۱۹۳۰ لمريز کال د افغانستان د اساسي قانون د اتباعو د عمومي حقونو په ۲۲ ماده کې داسې راغلي دي : ((مطبوعات و اخبارات داخله که خلاف مذهب نباشد مطابق اصولنامه مخصوص آن ازاد ميباشد . مطبوعات و جرايد خارجه که به مذهب و سياست حکومت عليه افغانستان اخلال نه رساند اد خال آن به افغانستان ازاد است . )) ( ۲: ۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ۱۹۳۱ میلادي کال د کابل ادبی انجمن جوړ کړ . او د دې انجمن نشراتي ارګان کابل مجله کې علمي ، تاریخي او ادبي مقالې خپریدلې چې روڼ اندو پام وړ وګرځیده . ( ۲ : ۱۲ )

نـادر خـان د واکنمـۍ پرمهـال د امـاني دورې جریـدې او ورځپـاڼې چـې د حبیـب الله دکلکاني ( بچه سقاو ) په واکمنۍ کې یې نوم بدل شوي وه ده بیر ته په اصلي نوم نشر کړې چې عبارت دي له :

۱ ـ اصلاح تاسیس نیټه : ۱۳۱۰ ل ۱۹۰۱ ز کال د امتیاز خاوند . محمد نـادر او مسـول مدیر شیر احمد . په ۱۳۵۲ لمریز کال د داود خان کودتاه وروسته بنده شوه .

۲ ـ کابل تاسیس نیټه : ۱۳۰۱ ل کال د امتیاز خاوند د افغانستان ادبي انجمن مسـول مدیر محمد انور بسمل ،په پښتو او دری ژبه چاپیدله .

۳ ـ اتحاد مشرقي تاسیس نیټه : ۱۲۹۸ ل د امتیـاز خاونـد د مشرقي تنظیمه ریاست ، سر محرر میرزا شاهرخ او برهان الدین کشککي او نـور ... خود نادرخـان پـه واکمنـۍ کـې د ننګرهار په نوم خپریدله .

۴ ـ اردو تاسیس نیټه : ۱۳۰۱ ل ۱۹۲۲ ز د امتیـاز خاونـد د ملي دفـاع وزارت مسـول مدیر محمد داود .

۵ ـ افغان کلنۍ : د امتیاز خاوند د کابل ادبي انجمن .

۶ ـ هرات د تاسیس نیټه : ۱۳۱۱ ل د امتیاز خاونـد انجمـن ادبي ولایت هـرات ، مسـول مدیر سرور جویا .

۷ ـ حی علی الفلاح : د تاسیس نیټه ۱۳۱۱ چاپ دولتي مطبعه کابل .

۸ ـ اقتصاد تاسیس نیټه : ۱۳۱۱ کال چاپ مطبعه دولتي کابل .

۹ ـ عرفان تاسیس نیټه : ۱۳۱۰ د امتیـاز خاونـد د معـارف وزارت مسـول مـدیر محمـد هاشم شایق .

۱۰ ـ پیـــام تندرســـتی تاســـیس نیټـــه : ۱۳۱۰ ل د امتیـــاز خاونـــد د صـــحیه مستقل ریاست . ( ۱ : ۲۵۰ ـ ۲۵۱ )

## اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د واکمنۍ پرمهال[ ۱۳۱۲ ـ ۱۳۵۲ ل کال ][ ۱۹۳۳ ـ ۱۹۷۳ ز کال]

د سـردرا محمـد هاشـم خـان ( ۱۹۳۳ ـ ۱۹۴۶ ز کـال ) د صدراعظمي پـه ۱۷ کلنـه دوره کـې مطبوعات د دولت تر کنترول لاندې وه . د نیوکې او اصلاحي خپرونو حق یې نه در لـود پـه ۱۹۳۶ ز کال دمطبوعاتو مستقل ریاست او د باختر اطلاعـاتي اژانـس مـدیریت تاسـیس

(c) ketabton.com: The Digital Library

شول . چې په دې سره په داخل او بهر کې په منظم ډول د اطلاعاتو د را ټولولو زمینه برابره شوه . د راډیو په شمول ټول نشراتي ارگانونه د محمد هاشم خان تر جدي کنترول لاندې وه . (۲: ۱۹)

د شاه محمود خان د صدارت دوره (۱۹۴۲ _ ۱۹۵۲ ز کال د دویمې نړیوالې جگړې له پای ته رسیدو وروسته په ۱۹۵۰ ز کال د مطبوعاتو دویم قانون نافذ شو . د شاه محمود د صدارت پرمهال انگار ، ندای خلق نیلاب ، ولس ، آئینه ورځپاڼو خپرونې ازادو او نا دولتي مطبوعات گڼل کیدل . چې د کابل په ښار کې خپریدلې . او د فاریاب په مرکز کې د اتوم په نوم نشریه موجوده وه . (۲ : ۱۹)

او دولتي نشرات پامیر ، صدای ملت ، پیام اقبال ، الفبا او ژوندون په نومونو په پلازمینه او ولایتونو کې نشریدلې . (۲: ۱۹)

د شاه محمود خان صدارت په دوره کې ۱۳۲۹ لمریز کال د مطبوعاتو اصولنامې سربیره نورې اداري لکه دارة المعارف عمومي ، مدیریت پوهنې نندارې عمومي مدیریت او په ۱۳۳۱ لمریز کال په کراچۍ ، لندن ، قاهره ، نوې ډهلي ، او تهران کې مطبوعاتي اداري جوړې شوې . . (۷: ۲۷۳)

د سردار محمد داود خان د صدراعظمۍ (۱۹۵۳ _ ۱۹۶۲ ز کال) پر مهال ازادو مطبوعاتو ته اجازه ورنه کړل شوه . خو نوي دولتي نشریې لکه کابل ټایمز ، هیواد ، ستوری ، سره میاشت ، افغانستان ، پیام حق ، تعلیم وتربیه الفلاح ، اریانا ، کانو صنایعو او یوشمیر نورې جریدې په ولایتونو کې خپریدلې ، خو داود خان هم لکه محمد هاشم خان په دولتي مطبوعاتو ټینگار کاوه او د ازادو مطبوعاتو مخالف و . (۲: ۲۰)

د دیموکراسۍ لسیزه (۱۹۶۳ _ ۱۹۷۳ ز کال) (۱۳۴۳ _ ۱۳۵۲ ل) کې د افغانستان دریم آساسي قانون چې په ۱۹۶۴ کال کې تصویب شو . د مطبوعاتو د ازادۍ په اړه یې داسې لیکلي وه . : ((دبیان ازادي له تعرض څخه مسونه ده.هر انسان حق لري چې د قانون داحکامو سره سم یوازې د افغانستان د اتباعو حق دې ، دوې اجازه لري چې عمومي مطبوعې جوړې او د مطبوعاتو په نشر کې ونډولري ، خو د راډیو او تلویزون دستگاه گانو جوړول یوازې دولت ته اختصاص لري . (۲: ۲۱)

د دیموکراسۍ په لسیزه کې انقلابي خوځښتونه د تشکیل په حال کې و . د خلق او پرچم ورځپاڼو د افغانستان د خلق دیموکراتیک گوند ایدیالوژي ، اهداف او مرام نشراوه او یو شمیر نورې ازادې او خپلواکې نشریې منځ ته راغلي خو د داود خان په کودتاه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

( ۱۳۵۲ _ ۱۹۷۳ ) سره ټول ازاد نشرات بند او دولتي مطبوعاتو تر کلک نظارت لاندې نشرات پیل کړل . خو ادبي ، علمی او فرهنګي فعالیتونو پرمختګ وکړ .

د ۱۳۴۳ لمریز کال آساسي قانون په یو ویشتمه ماده کې داسې راغلي وه . : (( د فکر او بیان ازادي د بلوسی څخه په امن ده ، هر افغان حق لري چې مطالب د قانون د حکومونو سره سم له دي چې لومړي يې د دولتي مطبوعاتو ته وښي چاپ او نشر کړي . د عمومي چاپ خانې د تاسیس او مطبوعاتو د خپرونو اجازه اود امتیاز قانون د حکمونو سره سم یوازي د افغانستان د اتباعو او دولت ته ور کول کیږي . د راډیو او عامو خپرونو او کار ځایونو تاسیس او چلول یوازي په دولت پوري اړه لري . ( ۲ : ۲ )

د ۱۹۲۵ز کال څخه تر ۱۹۷۱ ز کال پورې ۳۱ غیر دولتي ورځپاڼې او جریدې خپریدلې چې ۷ جریدي لکه خلق ، پرچم ، مساوات ، صداي عوام ، شعله جاوید او افغان ملت د سیاسي ګوندونو د نشراتي ارګان په توګه خپریدلې . یوازي د سبا په نوم یو وړه ازاده مطبعه موجوده وه . نوري ټولې په دولتې مطبعه کې چاپیدلي . ( ۹: ۲۱۹ )

خو ازادو یعنې غیر دولتي ورځپاڼو چې کله جواز تر لاسه کړ او یو اندازه پیسې يې په بانک د تضمین په توګه کیښودلې په خپله لاره کې يې بل خنډ شتون نه در لود خو په دې ټولو کې د ټولنیزو ګټو احساس در لودونکي کم وو . ( ۹: ۲۲۴ )

پایله :

مطبوعاتو د افغانستان په کلتوري تاریخ کې د پام وړ ونډه اخستې ده . چې اوس مهال خلک د رسنیو د معلوماتو پر بنا د دولت په کړنو قضاوت کوي . او د سیاسي وضیعت ارزونه کوي خو مهمه دا ده چې ټولې رسنې په ایمانداری سره حقیقتونه نشر کړي تر څو دخلکو د بیداری سبب و ګرځي .

په افغانستان کې مطبوعاتي فعالیت د امیر شیر علی خان دویم ځل واکمنی کې په رسمي ډول پیل شوه . د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د واکمنی تر پایه پورې يې مختلف پړاونه طې کړي دي . چې ځینو واکمنانو لخوا د ورځپاڼو مسولینو ته د تحدید او بندي کیدو سزا هم ور کړل شوې ده . خو مطبوعاتو خپل ټولنیز رول لوبولي او د خلکو باور يې پرځان پیدا کړې . اوس ډیری ځوانانو مطبوعاتي فعالیتونو ته مخه کړې ده . خو مطبوعاتو د تاریخ په دغه پړاو کې یعنې له ۱۸۲۸ څخه ۱۹۷۳ ز کال پورې ، دغازي امان الله خان واکمنی او د دموکراسی لسیزه ځانګړی ځای لري . چې په دې دغو دواړو وختونو کې مطبوعاتو دپام وړ پرمختګ کړی دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Abstract:**

***The media and press took part in cultural history of Afghanistan . Now a days people gudge on the basis of information publishing throush press a bout governmental laws and activities . they examine political situation , but It is important for media to public ate fact with reality and honesty to awarm people .In Afghanistan the press and media activities started when Amir sher Ali khan had come in authority for the second time . And passed throush different stages up to the end of Ali Hezrat Zahir shai government . That from some authoritative directors of newspapers were punished and prisoned .***

***But press and media played its social and central role . And achieved the trust of the people , Now a days a lot of people take interest in media but press has a special position for the period 1868 throush 1975 during Amanullah khan decade of democracy , That played central , Role in publishing press .***

## ماخذونه

۱ _ افغان ، فریاد ، نجم الدین ( ۱۳۸۴ هـ ش ) . نگرش بر تاریخ معاصر افغانستان . انجمن نشراتي دانش ، پشاور .

۲ _ پرتو نادری ، نصرالله ( ۱۳۸۵ ل ) . چګونکې رسانه ها در افغانستان . مجتمع جامعه مدني افغانستان ، نگاه انتشارات و مطبعه ، میوند .

۳ _پیغام ، جان محمد ( ۱۳۹۱ ل ) ، پوهه ، د ننګرهار پوهنتون علمی او څېړنیزه ، دری میاشتنۍ خپرونه . علامه محمود طرزی . ۱۳۹۱ ل کال دویمه _ دریمه ګڼه ، چنګاښ _لیندي پر لپسي ۴۳ _ ۲۴ ګڼه .

۴_ پیغام ، جان محمد ( ۱۳۹۲ ) پوهه د ننګرهار پوهنتون علمي او څېړنیزه درې میاشتنۍ خپرونه . غلام محی الدین انیس . په افغانستان کې د ملي خپلواکه نا دولتي جریدې بنسټ ایښودونکی . ۱۳۹۲ ل کال لومړۍ ګڼه مرغومی _ غبرګولي . پر له پسې ګڼه : ۴۴_ ۴۵

۵ _ پیغام ، جان محمد ( ۱۳۹۰ ) کال . د شلمۍ پېړۍ په لومړیو دریو لسیزو کې د افغانستان سیاسي او فرهنګي بهیر . مومند خپرندویه ټولنه . ننګرهار جلال آباد .

۶ _ ځلمی ، محمد ولي ( ۱۳۸۴ هـ ش کال ) . د افغانستان په وروستي دموکراسی کې د فکر او بیان ازادي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷ _ دریځ ، امین الله ( ۱۳۷۹ خورشیدي ) افغانستان د قرن بستم ، کتابخانه دانش ، پیشاور .
۸ _ عطایي ، محمد ابراهیم ( ۱۳۸۴ ) . افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه . دویم چاپ انتشارات میوند ، سبا کتابخانه ، پشاور .
۹ _ کشککي ، مصباح الدین ( ۱۳۸۹ ) . د آساسي قانون لسیزه . ژباړه داد خان غزنیوال ، میوند خپرندویه ټولنه . مطبعه کابل
۱۰ _ هاشمي ، سید سعدالدین ( ۱۳۵۹ هـ ش ) . افغانستان معاصر . پوهنځی علوم اجتماعي پوهنتون کابل . گسستنر

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**